پوهنمل حاجي محمد نوزادي

# د « نا آشنا میرمن » د تابلو معما

پیمانو کي يي د سترگـو ، نصوحا تـوبـه ماتيږي
تــه بــه و وينې زاهـده چـي نن بيا تـوبـه ماتيږي

مړو کتو په ور بللو، به طلاق حـورو ته ورکړم
په سوگند مي تکل کړی، په والله تـــوبـه ماتيږي
( نوزادي )




دا تابلو په ۱۹ پیړۍ کی د روسي وتلی نقاش ایوان کرامسکوی ډیر مشهور شهکار دی . نقاش د ډیرو غوښتنو سره سره د ژوند تر پایه دا راز رسوا نکړ چي دغه دده په گوتو نقاشي سوې نجلی څوک ده . نه دده په لیکونو او نه هم په یادانبتونو کي ددغي میرمني یا نجلي په اړه کومه یادوونه تر سترگو سوې نده . ددغی تابلو تر نقاشۍ یوازي څو کاله وړاندی د « انا کارینینه » پنامه د وتلي روسي لیکوال لیو تولستوی مشهور رومان له چاپه ووت . کله چي دغه تابلو نقاشي سوه ، داسي اوازه خپره وه چي گویا کرامسکوي په نوموړي رومان کي پدغه نامه قهرمان کرکتر ترسیم کړیدی . ځیني څیرونکي داسی فکر کوي چي ښایي دا به د « ایدیوت » پنامه د د روسي وتلی لیکوال ف . دستایوفسکي د رومان څخه د ( ناستاسیا فیلیپوونا ) انځور وي . ډیری څیرونکي باور لري چي دا انځور یوازي هنري څیره نه ، بلکه ریښتینې څیره ده . د نقاشي سوی میرمني د څیري ورته والي ځینو څیرونکو ته دا فکر پیداکړي چي دا د ( ماترینا ساوییننا ) پنامه هغه د بزگري کورني نه کلیواله نجلی ده چي د ( بیستوریف ) پنامه يي د یوه اشرافی درباري سره واده وکړ . ځیني بیا د نجلي



د سرو کړو شونډو او د موډ سره سمو قیمتي جامو له مخي فکر کوي چي پدې انځور سره نقاش یوازي د

ټولني طبقاتي حالت ښودلی دی . داسی یوه نظریه هم وړاندي سویده چی پدې تابلو کي کرامسکوی خپله لور سوفیا کرامسکایا انځور کړیده . ددغي نظریې بنسټ پر دي خبره پروت دی



چي نقاش « نجلی د پیشو سره » پنامه تابلو کي د خپلي لور انځور کښلی دی او هلته د هغې سترګي ددغي تابلو د نجلۍ سره تر لویه بریده ورته والی لري .
ایګور ابولینسکي په ټینګار سره وایي چی په تابلو کي دا میرمن د ګرجستان د شاهي کورنۍ یوه ملکه ده چي بیحده ښکلي وه او د کورني ناخوالو له مخي يې ځان وژنه وکړه . دی وایي چی کرامسکوی د هغې و ښکلا ته هیښ پاته وو او د تراژیدي ژوند نه یې اغیزمن سوی وو . ځکه یې نو پدغي تابلو کي هغه انځور کړیده . ځینو ماهرانو بیا نوری ډیري فرضیې هم وړاندی کړیدي ، خو د ښکلو سترګو والا نجلی د پیژند پاڼي اصلی راز لا پټ پاته دی .

( د روسي انترنيټي سرچينو څخه ) ـ ۱۷ / ۳ / ۲۰۱۹ ـ ډنمارک

www.dawatmedia24.com